مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۲۷** (از ۳ الی ۱۰ اسد ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

**درگذشت رهبر طالبان و سرنوشت مذاکرات صلح**

- درگذشت ملا محمد عمر ........ ۴
- چالش‌هایی فراراه طالبان ........ ۴
- جانشین ملا محمد عمر ........ ۵
- سرنوشت مذاکرات صلح ........ ٦

**د ولسوالیو پرله پسې سقوط او پر روان وضعیت یې اغېزې**

- سقوط شوې ولسوالۍ ........ ۹
- د ولسوالیو د سقوط لاملونه ........ ۹
- د ولسوالیو د سقوط اغېزې ........ ۱۳

## مقدمه

طالبانو رسما ومنله چې د دغې ډلې مشر ملا محمد عمر "څه موده وړاندې" مړ شوی دی. له تېرو څو ورځو راهیسې د طالبانو د مشر د مړینې اوازه په ټول قوت سره خپرېده او تقریبا په نړیواله کچه هېڅ داسې رسنۍ نه وه، چې د ملا محمد عمر د مرگ خبر یې نه وي خپور کړی. دې اوازې هله زور واخېست چې د افغانستان ولسمشرۍ ماڼۍ په دې اړه یوه اعلامیه خپره کړه او دا پېښه یې تایید کړه. د سپینې ماڼۍ ویاند هم په دې تړاو خپاره شوې رپوټونه باوري وبلل.

طالبانو هم له دغو اوازو وروسته، د یوې اعلامیې په خپرولو سره دا خبره تایید کړه او سملاسي یې د یوې بلې اعلامیې په خپرولو سره ملا اختر محمد منصور د نوي مشر په توگه اعلان کړ. په دې اعلامیه کې راغلي، چې مولوي هیبت الله او سراج الدین حقاني د اختر محمد منصور معاونین ټاکل شوي دي. پوښتنه دا ده، چې د ملا محمد عمر له مړینې وروسته به د دغې ډلې برخلیک او د سولې د مخامخ پیل شوو خبرو برخلیک په کوم لوري ولاړ شي؟ دغه راز دا پوښتنه هم مطرح ده، چې د طالبانو په نوي مشر به تر کومه د دې ډلې افراد راټول شي؟

د تحلیل په دویمه برخه کې په وروستیو څو میاشتو کې په پرله پسې ډول د ځینې مهمو سیمو او کلیدي ولسوالیو د سقوط په تړاو لولئ. طالبانو په پرله پسې ډول ځینې مهم پوځي مرکزونه او کلیدي ولسوالۍ له حکومتي ځواکونو څخه نیولي دي او یو زیات شمېر نورې یې د سقوط له جدي گواښ سره مخ دي. د دغو ولسوالیو د سقوط لاملونه څه دي؟ او د روانې ناامنۍ دا څپې به، د هېواد پر اوسنې وضعیت څه اغېزې وښندي؟

د دې اوونۍ په تحلیل کې، په همدغو موضوعاتو د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د خپرنیزې څانگې شننې او څېړنې لولئ.

# درگذشت رهبر طالبان و سرنوشت مذاکرات صلح



چند روز قبل شایعهٔ مرگ ملا محمد عمر به نقل از رسانه‌های پاکستانی، به سطح جهانی در رسانه‌ها منتشر گردید و برخی مقامات افغان نیز گفتند که ملا محمد عمر دو سال قبل در یک شفاخانه در شهر کراچی پاکستان جان داده است.

بعد از این شایعات، بعضی از رسانه‌های پاکستانی تبصره‌هایی در همین مورد منتشر کردند و مدعی شدند که حتی رایزنی‌هایی به منظور تعیین جانشین ملامحمد عمر در میان تحریک طالبان، در جریان است که یکی از گزینه‌ها مولوی یعقوب پسر ملا محمد عمر می‌باشد.

اما بعدا طالبان با نشر اعلامیه‌ای مرگ او را به گونهٔ رسمی تایید کردند. پرسش اینجاست که آیا واقعا ملا محمد عمر دو سال پیش درگذشته است؟ اگر چنین است، پس اعلام خبر درگذشت او در مقطع حساس از زمانی که قرار است مذاکرات صلح میان حکومت افغانستان و طالبان با وساطت پاکستان صورت گیرد، با این مذاکرات در رابطه است.

## درگذشت ملا محمد عمر

در گذشته نیز رسانه‌های مختلف بارها در مورد زنده بودن و یا آزاد بودن رهبر طالبان سوالاتی را مطرح کرده بودند. در مواردی گفته شده بود که ملا محمد عمر در زندان پاکستان است و یا گاهی هم این شایعه به گوش می‌رسید که وی به دلیل بیماری وفات کرده است.

ریاست جمهوری افغانستان روز چهارشنبه (29 جولای) با نشر اعلامیه‌ای گفت که «بر اساس معلومات موثق، مرگ ملا محمد عمر، رهبر طالبان را در ماه حمل ۱۳۹۲ (اپریل ۲۰۱۳) در پاکستان، تایید می‌کند.» یک مقام افغان همچنان به رسانه‌ها گفت که حکومت افغانستان خبر مرگ ملا محمد عمر را از مقام‌های پاکستانی دریافت کرده است.

اریک شولتز سخنگوی کاخ سفید نیز روز چارشنبه 29 جولای طی یک کنفرانس مطبوعاتی، گزارش‌های نشر شده مبنی بر درگذشت ملا محمد عمر را موثق خواند.

اما طالبان ناوقت روز پنجشنبه درگذشت رهبر خود را رسما تایید کردند و در اعلامیه‌ای آنان بدون ذکر وقت دقیق وفات ملا محمد عمر، آمده است که وی مدتی قبل به دلیل مریضی که عاید حالش گردیده بود، وفات کرده است.

## چالش‌هایی فراراه طالبان

صف واحد طالبان و خاصتا شورای رهبری طالبان بعد از مرگ ملا محمد عمر به مشکلاتی مواجه خواهد شد و تلاش‌ها برای ایجاد انشعاب در صف آنان به راه انداخته خواهد شد.

اگر ملا محمد عمر واقعا دو سال پیش فوت کرده بود، از نظر شرعی وقتی یک امیر به هر دلیلی از دنیا می‌رود، باید فورا جانشینش تعیین گردد. مبارزهٔ مسلح به فرمان امیری که از دنیا رفته است، تصامیمی که بنام وی گرفته شده و بخصوص چگونگی مرگ وی، سوالاتی اند که می‌توانند تحریک طالبان را با چالش‌هایی مواجه سازند. هرچند طالبان به دلیل مصلحت و متحد نگهداشتن صف خود این راز را سر به مهر نگهداشته بودند، اما چرا اکنون که شرایط برای تفرقه در صف آنان سازگار شده است، درگذشت او را تایید کردند.

همزمان با مذاکرات در مری–اسلام‌آباد، شورای رهبری طالبان اعلامیه‌ای صادر کردند که به صورت مبهم، افرادی را که بنام طالبان در آن مذاکرات سهم گرفته بودند، رد ننمودند. از موقف نرم طالبان چنین بر می‌آمد که یا این تغییر در موقف، ناشی از اختلاف در صف آنان ویا به دلیل فشارهای پاکستان است.

منابع نزدیک به طالبان اختلاف در صف آنها را رد می‌کنند، اما فشارهای پاکستان را در تغییر موقف طالبان تا حدی مؤثر می‌دانند. گفته می‌شود که در روزهایی که پاکستان درصدد بود تا طالبان را به میز مذاکره حاضر نماید، فشارهای گونه‌گونی بر آنان وارد آورد و همین فشارها سبب شد تا شورای رهبری طالبان اعلامیه‌ای صادر نماید که مذاکرات اسلام آباد را رد ننماید.

## جانشین ملا محمد عمر

طالبان فورا بعد از تایید کردن درگذشت ملا محمد عمر اعلامیه‌ای در بارۀ تعیین امیر جدید به نشر سپردند. در اعلامیۀ طالبان آمده است: «اعضای شورای رهبری امارت اسلامی، مشائخ و علماء کرام که از اعتبار شرعی اهل الحل و العقد برخوردار هستند در جریان یک نشستی بعد از مشوره های طولانی، ملا اختر محمد منصور دوست و شخص نزدیک و قابل اعتماد ملا محمد عمر مجاهد و معاون پیشین امارت اسلامی را به حیث امیر امارت اسلامی تعیین کردند.»

اعلامیه می‌افزاید: «همچنین بنابر مشوره و تائید نشست مذکور هریک شیخ الحدیث مولوی هیبت الله آخندزاده رئیس عمومی پیشین محاکم امارت اسلامی؛ و ملا سراج الدین حقانی فرزند مولوی جلال الدین حقانی شخصیت مشهور جهادی و علمی و قومندان شناخته شدهء امارت اسلامی، بحیث معاونین امارت اسلامی تعیین شدند.»

هرچند طالبان در این اعلامیه گفته اند که «در جلسهء تعیین زعیم از جانب علماء کرام، مشائخ و بزرگان امارت اسلامی با ملا اختر محمد منصور بحیث امیر المؤمنین علی السمع و الطاعۀ بیعت صورت گرفت و ایشان را نیز بحیث امیر شرعی، تعهد به التزام شریعت کردند.» اما پیش از این گمان بر این بود که رهبر جدید طالبان لقب "امیر المؤمنین" را نخواهد داشت.

طالبان با برگزیدن ملا اختر محمد منصور شخص قابل اعتماد ملا محمد عمر، به حیث رهبر شان و ملا سراج الدین حقانی پسر مولوی جلال الدین حقانی به حیث معاون ملا اختر محمد منصور تا حدی زیادی توانستند جلو انشعاب در صف خود را بگیرند.

طالبان همچنان تلاش خواهند کرد تا هم‌پیمانان خارجی شان از کشورهای مختلف، مانند ایمن الظواهری رهبر شبکۀ القاعده، با ملا اختر محمد منصور به حیث امیر مسلمانان بیعت کنند تا توجیهی برای دادن عنوان امیر مسلمانان تمام جهان برای ملا اختر محمد منصور باشد و بدین ترتیب جلو پیوستن افراد آنان به گروه داعش را بگیرند.

## سرنوشت مذاکرات صلح

با توجه به فشارهای پاکستان، طالبان در موقعیت حساسی قرار گرفته اند. همچنان اکنون که خبر درگذشت ملامحمد عمر به نشر رسید، امکان از سرگیری مذاکرات صلح تا مدت نامعین به تعویق خواهد افتاد. از همین‌رو وزارت خارجهٔ پاکستان در اعلامیهٔ خود گفت که گفتگوهای صلح که قرار بود روز جمعه در اسلام آباد برگزار گردد، به دنبال مرگ ملا عمر رهبر پیشین طالبان و ایجاد سردرگمی در درون آن گروه، به تعویق می‌افتد.

هرچند گفته می‌شود که ملا اختر محمد منصور به گفتگوهای صلح تمایل دارد، اما طالبان تحت رهبری ملا اختر محمد منصور به حیث معاون ملا محمد عمر، بارها به نقش دفتر قطر به عنوان یگانه مرجع مذاکرات سیاسی تاکید کرده است؛ پس ملا اختر محمد منصور نیز به گفتگوهای صلح از طریق دفتر قطر، علاقه دارد.

از طرف دیگر تجربه نیز نشان داده که این دفتر مرجع باصلاحیت در تصمیم گیری‌های سیاسی است. آزادی تعدادی از اتباع خارجی از جمله باو برگدال سرباز امریکایی در برابر آزادی 5 زندانی طالب از زندان گوانتانامو، آزادی چند تبعهٔ ترکیه، یک تبعهٔ قرغیزستان و یک پیلوت روسی که در نتیجهٔ فرود اضطراری هلیکوپتر شان در ولایت لوگر توسط طالبان دستگیر شده بودند، همه در نتیجهٔ مذاکراتی صورت گرفت که میان دفتر قطر و نمایندگان این کشورها صورت گرفت. اگر دفتر قطر صلاحیت نمی‌داشت، چگونه ممکن بود که توافق در قطر صورت گیرد و افراد در افغانستان آزاد شوند؟

# د ولسواليو پرله پسې سقوط او پر روان وضعیت يې اغېزې



له تېرو څو مياشتو راهيسې د دولت د وسلهوالو مخالفينو له خوا په بېلابېلو ولايتونو کې یو شمېر ولسواليو سقوط کړې او د تېرو کلونو پر خلاف، سږ کال د هېواد په ټولو سيمو کې توده جګړه روانه ده. د جګړې لمن له جنوبي ولايتونو څخه شمالي ولايتونو ته غځېدلې او دا مهال د افغانستان د کورنيو چارو د وزير په اند ۱۹ ولايتونه له جدي ګواښ سره مخ دي.

د دې ترڅنګ، د ملي وحدت حکومت ځینو ناسمو تګلارو-لکه ملېشه جوړونه-، ناسم مديريت، د حکومت خپلمنځي اختلافاتو، افغان ځواکونو ته په وخت د مرستو نه رسېدلو او د سيمهییزو پوليسو او نامسؤوله وسلهوالو ناسمې کړنې، هغه نور لاملونه دي، چې د جګړې سختېدو او پراخېدو ته يې لار هواره کړې ده.

دا چې په هېواد کې د روانې ناامنۍ او په تېره بيا د ځينې سيمو او ولسواليو د پرله پسې سقوطونو تر شا څه لاملونه دي او دا چاره به پر روان وضعيت څه اغېزې وښندي، دلته يې څېړو.

## سقوط شوې ولسوالۍ

د تېرو څوارلسو کلونو په پرتله په روان کال کې د یو شمېر ولسواليو او پوځي اډو د سقوط خبرونه زيات اورېدول کېږي. که وروستيو مياشتو ته ځير شو، نو په مشخصه توګه ويلای شو، چې په دې وروستيو کې د کندز چهاردره او دشت ارچي، د سرپل کوهستانات، د بادغيس جوند، د غزني ناوه، د بدخشان يمګان، د هلمند نوزاد، د نورستان وانټ وايګل او ځينې نورو ولسواليو په پرله پسې ډول سقوط کړی او د غور پسابند، تيوره او چارسده، د هلمند سنګين، کجکي او موسی کلا، د پکتيا ځمکنيو، د کونړ او ننګرهار څو ولسوالۍ، د لوګر ازره، خرخ او خروار، د نورستان څو ولسوالۍ، د بغلان دهنه غوری، د ميدان وردګو دايميرداد، د ارزګان خاص ارزګان او په نورو بېلابېلو ولايتونو کې ګڼ شمېر نورې ولسوالۍ د سقوط له جدي ګواښ سره مخ دي.

## د ولسواليو د سقوط لاملونه

مشخصا په تېرو څو مياشتو کې د ډېرى ولسواليو د سقوط تر شا يو شمېر عوامل شته دي، چې هم د وسلهوالو مخالفينو له لوري دي او هم د حکومت له لوري. ځينې دا لاملونه په لاندې ډول دي:

1. **د ملي وحدت حکومت سياسي اختلافات**

د هېواد په ګوټ ګوټ کې پر روانو ناامنيو د ملي وحدت حکومت خپلمنځي سياسي اختلافاتو په بېلابېلو ډولونو سيوری غوړولی دی. په پيل کې د ملي وحدت حکومت له جوړېدو څخه څو مياشتې وړاندې د ټاکنو د پايلو پر سر لانجې وې او وروسته، چې د اشرف غني او ډاکتر عبدالله ترمنځ د ملي وحدت ترنامه لاندې حکومت اعلان شو، نو دواړه لوري تر ننه پورې له ژورو سياسي اختلافاتو سره مخ دي. په لومړي سر کې دغه اختلافات د وزارتونو پر سر وو خو اوس حکومتي تګلارې هم په دغو اختلافاتو کې شاملې دي.

د هېواد د امنيت او له امنيتي ګواښونو سره مقابلهکوونکي وزارت ته کانديد وزير لا تراوسه د باور رايه نه ده ترلاسه کړې او دغه راز حکومت هم د قضاياو په تړاو په يوه خوله نه دی. د اشرف غني او ډاکتر عبدالله د ټيمونو اختلافات دې پر خپل ځای پاتې وي، حتی ولسمشر او لومړی مرستيال يې هم ضد او نقيض او بېلې بېلې څرګندونې کوي.

دغو داخلي او خپلمنځي اختلافاتو ته په کتلو سره د افغانستان د مشرانو جرګې لومړي مرستیال د مشرانو جرګې په یوه غونډه کې وویل: «له بده مرغه دولت په زیاتو مواردو کې روښانه سیاست نه لري، دولت مشخصه پالیسي نه لري، له بده مرغه دولت د خپلمنځی او کورنیو اختلافاتو ښکار شوی.»

## 2. سیمه‌ییز پولیس او نامسؤول وسله‌وال

د ځینو سیمو او ولسوالیو د سقوط تر شا یو لامل هم سیمه‌ییز پولیس او غیر مسؤول وسله‌وال دي. په ځینو مواردو کې له وسله‌والو مخالفینو سره د جوړجاړي له کبله او په ځینو نورو مواردو کې له ځایي خلکو سره د ناوړه چلند له کبله خلک اړ شوي چې د دولت له وسله‌والو مخالفینو سره لاس یو کړي او ولسوالۍ سقوط وکړي.

د بېلګې په ډول د اقتاش سیمې د سقوط په اړه چې کوم راپورونه خپاره شوي، د سیمې خلکو په زغرده ویلي، چې د اربکیانو او محلي پولیسو په نامه له بې‌سره ځواکونو څخه خلک تنګ شول. بالاخره یې له طالبانو سره مرسته وکړه، هغوی راغلل او سیمه یې ونیوله[1].

همدا راز د نورو رپوټونو په اساس، سیمه‌ییز پولیس له دولتي وسلو سره یوځای یا د طالبانو لیکو ته تللي او یا یې په غیر مستقیم ډول له هغوی سره د ولسوالیو په سقوط کې مرسته کړې.

## 3. "ضرب عضب" عملیات

د ۲۰۱۴ کال له جون میاشتې وړاندې په سیمه کې د بهرنیو وسله‌والو ګروپونو پټنځای د پاکستان شمالي قبایلي سیمې او د شمالي وزیرستان سیمه وه. پاکستان، پر جناح هوایي ډګر د برید له کبله په شمالي وزیرستان کې د «ضرب عضب» عملیات پیل کړل او همدا راز یې د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په میاشت کې پر یوه پوځي ښوونځي د خونړي برید له امله خپله د ترهګرۍ-ضد تګلاره نوره هم سخته کړه او په قبایلي سیمو کې یې هم پوځي عملیات پیل کړل. د ضرب عضب عملیاتو په پیل کې به تر ډېره پاکستان-ضد کسان او په تېره بیا چیچن، ازبک، تاجک او ایغوریان په نښه کېدل؛ خو پر پوځي مکتب برید بیا د پاکستان تګلاره هم لږه اغېزمنه کړه او له هغه وروسته یې د ټولو بهرنیانو پرخلاف ګامونه پورته کړل.

د پاکستان د همدغو تګلارو له کبله ډېری بهرنیان افغانستان ته راواوښتل او ځانونه یې خپلو سیمو ته نږدې کړل. له همدې ځایه ده، چې جګړې په بدخشان، تخار، کندز، جوزجان، فاریاب او سرپل کې ډېر زور واخیست؛ ځکه دا ولایتونه د چین له سینکیانک او دغه راز له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره پولې

---

[1] ویسا ورځپاڼه، لسم کال ٦٣مه ګڼه، پرلپسې ۲۵۰۴مه ګڼه، ۱۳۹۴ کال، د زمري ۷مه

لري. د افغانستان د کورنیو چارو وزیر هم شمال ته د بهرنیانو راتګ او شتون تاییدوي او وايي چې بهرني جنګیالي غواړي چې په افغانستان کې ځانته د خوندي پټنځايونو جوړولو ترڅنګ، د جنوب او شمال ترمنځ لاره هم پرانیزي.

دغو سیمو ته د بهرنیانو راتګ طالبان نور هم پیاوړي کړل او همدا لامل دی، چې په شمال کې یو شمېر ولسوالۍ په پرله پسې ډول سقوط کوي.

### 4. امنیتي تړون

د رواني ناامنۍ یو لامل له امریکا سره د امنیتي تړون لاسلیک کول هم بلل کېږي. اشرف غني د ټاکنو پرمهال طالبانو او طالبانو ته نږدې خلکو ته ډاډ ورکړی و، چې د امکان تر حده به د امنیتي تړون لاسلیک کول ځنډوي؛ خو د لوړې له پرځای کولو وروسته یې، په ۲۴ ساعتونو کې دننه په ډېره بیړه د امنیتي تړون په لاسلیک کولو سره، پر طالبانو د سولې لارې بندې کړې او په غبرګون کې یې طالبانو د عزم پسرلني عملیات پیل کړل.

طالبانو په قطر کې د پګواش په کنفرانس کې هم، د امنیتي تړون لاسلیک کول د سولې د پروسې پر وړاندې اساسي خنډ وباله او په خپله اعلامیه کې یې ویلي: «متأسفانه هر کله چې اسلامي امارت د سولې په لور قدم اېښی، په مقابل کې د ستراتژیک تړون او امنیتي تړون په نوم عملاً د سولې مخه نیول شوې ده.»

### 5. د سولې پروسه کې پر طالبانو د پاکستان فشار

ولسمشر غني له واک ته رسېدو سره سم، له پاکستان سره په دې ګمان اړیکې ښې کړې، چې د افغانستان د سولې کیلي له پاکستان سره ده او که پاکستان ته د امتیازاتو ورکولو ترڅنګ، په افغانستان کې د هند نفوذ هم راکم شي، نو ښايي پاکستان د افغانستان د سولې په پروسه کې مرسته وکړي.

اشرف غني پاکستان ته داسې امتیازات ورکړل چې پخوا یې پاکستان په اړه ګمان هم نه شو کولی او اوس پاکستان هڅه کوي، چې د سولې په پروسه کې خپل رول ولوبوي. خو په بل اړخ کې طالبان د اشرف غني له دا ډول بهرني سیاست څخه خوښ نه دي؛ ځکه د دوی په اند دغه سیاست په افغانانو کې داسې ذهنیت خپور کړی، چې طالبان د پاکستان د لاس آله دي او که پاکستان وغواړي نو طالبان سولې ته چمتو کولای شي. له همدې امله، طالبانو په وار وار په خپلو اعلامیو کې دې خبرې ته اشاره کړې، چې د سولې د خبرو اترو واک یوازې د طالبانو له سیاسي دفتر (قطر دفتر) سره دی. د طالبانو د قطر دفتر هم په پاکستان کې د سولې په تړاو له ناستو څخه د همدغې اندېښنې له وېرې ډډه کوي، چې دوی د پاکستان د لاس آلې په توګه معرفي نه

کړي. ځکه نو طالبانو په ډېر شدت سره خپل پسرلني عملیات پیل کړل، ترڅو حکومت ته وښيي چې د دوی واک له پاکستان سره نه دی.

### 6. ناسم مدیریت

د مشرانو جرګې ډېری غړي وايي، چې د دولت ناسم مدیریت د دې لامل شوی چې یو شمېر ولسوالۍ د مخالفینو لاسونو ته ولوېږي. په دې تړاو مشرانو جرګه وايي: «د داخلي اختلافاتو له امله دولت نه دی توانیدلی چې روښانه امنیتي پالیسي رامنځ ته او امنیت ټینګ کړي.»

جګړه‌ځپلو سیمو او د جګړې ډګر ته په وخت سره د مرستندویه ځواکونو په رسولو پاتې راتلل هم هغه لامل دی، چې د چارواکو په اند ولسوالۍ له سقوط سره مخ کوي. په همدې تړاو د ولسي جرګې ځینې غړي په حکومت نیوکې کوي او د ډېری امنیتي پوستو او ان ولسوالیو د سقوط یو لامل په وخت سره له مرکزه د کومکي ځواکونو نه استول بولي. د کورنیو چارو وزارت ویاند صدیق صدیقي هم په دې برخه کې ځینې ستونزې تاییدوي او وايي: «په دې کې شک نشته چې د وخت یوه ستونزه شته. دا چې په وخت رسیږي که نه، دا یوه هغه ستونزه ده چې موږ ورسره مخ یو؛ اما په مجموع کې هڅه کوو چې له خپلو امکاناتو څخه کار واخلو او یوې سیمې ته ځانونه په وخت و رسوو او ستونزه حل کړو.»

### 7. د هوايي ځواک کمښت

بل لامل چې د ولسوالیو د سقوط لامل شوی، هغه له افغان اردو سره د هوايي ځواک د تجهیزاتو په برخه کې د نړیوالو مرستې نه کول دي. که څه هم د امنیتي ترون پر لاسلیک کولو ډېرې میاشتې اوړي، خو لا تر اوسه پورې افغان اردو په تجهیزاتي توګه داسې نه ده سمبال شوې، چې په ډېری سیمو کې له وسله‌والو مخالفینو سره د جګړې په ډګر کې برلاسي شي.

## د ولسواليو د سقوط اغېزې

په پرله پسې ډول د هېواد په بېلابېلو سيمو کې د طالبانو په لاس د مهمو سيمو او کليدي ولسواليو سقوط، د هېواد پر روان وضعيت لاندې اغېزې ښندلې دي:

**لومړی؛ امنيتي ځواکونه:** روان امنيتي وضعيت د امنيتي ځواکونو پر مورال بده اغېزه کړې، چې له کبله يې پر امنيتي ځواکونو هم د خلکو باور کم شوی.

**دويم؛ ملېشه جوړونه:** که د ۹۰مې لسيزې د پيل تاريخ ته ځير شو نو جوته به شي، چې کله مو په خپلو امنيتي ځواکونو باور بايلود نو دې چارې بيا په شمال او جنوب کې د قومي مليشو جوړولو ته لاره پرانيستې وه. دا ځل هم ډېر داسې خبرونه اورېدل کېږي، چې په شمال کې د دې پرځای چې د طالبانو پرخلاف امنيتي ځواکونه پياوړي کړای شي او يا يې تشکيلات پراخ کړای شي، مليشه جوړولو ته چمتووالی نيول کېږي.

که چېرې دا ځل هم د تېرې ۹۰مې لسيزې په شان مليشې جوړې شي، نو دا به نه يوازې دا چې طالبان ختم نه کړي، بلکې جګړه به نوره هم تر نامعلومه وخته وغځوي. په شمال کې به جګړو ته قومي رنګ ورکړای شي او امنيتي ځواکونه به چې په تېره يوه لسيزه کې زيات لګښتونه پرې شوي، له صحنې وايستل شي.

**درېيم؛ افغان حکومت او وسله‌وال مخالفين:** د ولسواليو او پوځي مرکزونو د پرله پسې سقوط خبرونه او دوام د دولت د وسله‌والو مخالفينو په ليکو کې جنګيالي نور هم وسله‌والې مبارزې ته هڅوي، بلکې د هغوی د مورال پورته کولو ترڅنګ هغوی پياوړي کوي هم او په مقابل کې پر حکومت د خلکو اعتبار له منځه وړي، دولت کمزوری ښيي او مشروعيت يې تر پوښتنې لاندې راځي.

**څلورم؛ د خلکو ورځنی ژوند:** پرله پسې د ولسواليو سقوط او بيا بېرته د حکومت له خوا د هغو سيمو نيولو، د خلکو ورځنی ژوند له تاوتريخوالي سره مخ کړی. همدا راز په نومړو ولسواليو کې چې جګړه پکې توده روانه ده، په خلکو ژورې مالي او ځاني اغېزې کړې دي.

**پنځم: د سولې پروسه:** افغان حکومت هڅه کوي، چې د سولې د روانو خبرو په دويمه غونډه کې له طالبانو سره اوربند اعلان کړي؛ خو که د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ جګړه په همدې ډول روانه وي او له کبله يې ډېرې سيمې او ولسوالۍ د طالبانو لاسونو ته لوېږي، نو دا به د سولې پر پروسې منفي اغېزه وکړي او د طالبانو

د لیکو په ټیټ پوړ کې به دا فکر قوي شي چې دوی په حکومت برلاسي دي او د سولې د خبرو پر ځای به د پوځي ځواک لاره غوره کوي. به بل اړخ کې به د ولسوالیو سقوط په افغان حکومت کې دننه د هغو خلکو دریځ هم قوي کړي، چې له طالبانو سره د خبرو اترو مخالفت کوي.

پای


**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 747575741 (+93) drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com